(۴) شعبات قرنطينی می تواند درصورت عدم رعايـــت شـــرايط منـــدرج فقـــرهٔ (۲) اين ماده مجدداً مطابق حکم مـــادهٔ ســـيزدهم ايـــن قـــانون، تصـــديقنامهٔ حفظ الصحهٔ نباتی صـــادرات را صـــادر نمايد.

(۵) دلومړني صادروونکي هېواد نوم د نباتي روغتیا ساتنې په هغه تصدیق لیک کې چې ددې مادې د (۴) فقرې دحکم سره سم صادرېږي، درجېږي.

## ترانزیتي محمولې

**پنځلسمه ماده:**

(۱) قرنطیني شعبې هغه محمولې چې له هېواد څخه په ترانزیتي ډول تېرېږي څېړي، دبسته بندۍ په صورت کې، د ټاکلي فیس په مقابل کې ورته د تېرېدو اجازه ورکوي او د نباتي آفت دکشف په صورت کې، محموله د توريد کوونکي په لګښت، ضد عفوني یا پاک کاري کېږي یا صادروونکي هېواد ته بېرته مسترد کېږي یاهم له منځه وړل کېږي.

(۲) که چېرې ترانزیتي بسته بندي شوې محموله خلاصه شوې وي یا قرنطیني شعبې د هغې په هکله شکمنې شي محموله دپلټنې لاندې نیول کېږي او د نباتي آفت څخه دپاکوالي په صورت کې دنباتي روغتیا ساتنې تصدیق لیک دټاکلي فیس په

(۵) نام کشورصادرکننده اولی درتصدیقنامه حفظ الصحهٔ نباتی که طبق حکم فقرهٔ (۴) این ماده صادر می گردد، درج می شود.

## محموله های ترانزیتی

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) شعبات قرنطینی محموله های را که ازکشور به شکل ترانزیت عبورمی نماید بررسی نموده، در صورت بسته بندی، اجازه عبور را دربرابر فیس معین اعطاء می نماید ودر صورت کشف آفت نباتی، محموله به مصرف توريد کننده، ضد عفونی و پاک کاری یا به کشور صادر کننده مسترد و یا محو می گردد.

(۲) هرگاه بسته بندی محموله ترانزیتی باز شده باشد یا شعبات قرنطینی در مورد آن مشکوک شوند محموله را مورد تفتیش قرارداده در صورت عاری بودن ازآفت نباتی تصدیق نامه حفظ الصحهٔ نباتی را در برابر فیس معین صادر و در

مقابل کې ورته صادرېږي او د نباتي آفت د ککړېدو په صورت کې د هغه د تداوي یا صادروونکي هېواد ته د مستردولو یا له منځه وړلو په هکله ددې قانون دحکمونو مطابق تصمیم نیسي.

(۳) ددې قانون په دیارلسمه ماده کې درج شوی حکم د ترانزیتي محمولو په هکله دتطبیق وړ نه دی مګردلاندې شرطونو دشتون په صورت کې:

۱- محموله په داسې ډول بسته بندي شوې وي چې د تنظیم شوي نباتي آفت د خپرېدو خطر چې ممکن دی په محموله کې شتون ولري منځ ته رانه وړي.

۲- محموله او ورسره مل سندونه د واردوونکي هېواد دنباتي روغتیا ساتنې دشرطونوسره په مطابقت کې وي.

۳- دلومړني صادروونکي هېواد دروغتیا ساتنې تصدیق لیک دمحمولې او ورسره مل سندونوسره مطابقت ولري.

صورت ملوث بودن به آفت نباتی درمورد تداوی یا مسترد نمودن به کشورصادرکننده ویا محو آن مطابق به احکام این قانون تصمیم اتخاذ می نماید.

(۳) حکم مندرج مادۀ سیزدهم این قانون در مورد محموله های ترانزیتی قابل تطبیق نمی باشد، مگر در صورت موجودیت شرایط ذیل:

۱- محموله طوری بسته بندی گردیده باشد که خطر انتشار آفت نباتی تنظیم شده که ممکن است در محموله موجود باشد، بوجود نیاورد.

۲- محموله و اسناد همراه آن درمطابقت به شرایط حفظ الصحه نباتی کشور وارد کننده باشد.

۳- تصدیقنامه حفظ الصحۀ نباتی کشور صادرکننده اولی در مطابقت با محموله واسناد همراه آن باشد.

## په سرحدي بندرونو کې پلټنه

شپاړسمه ماده:

(۱) نباتات، نباتي محصولات اونور تنظیم شوي اقلام په سرحدي بندرونوکې د واردېدو پرمهال پلټل کېږي.

(۲) که چېرې بارجامه مهرلاک او په نښه شوې وي، نباتات، نباتي محصولات اونور تنظیم شوي اقلام په وروستي مقصد کې د واردوونکي دغوښتنې پر اساس پلټل کېږي.

(۳) هغه پلټنې چې ددې مادې د(۱ او۲) فقرو مطابق صورت مومي په رسمي ساعتونو کې ترسره کېږي، دهغه حالاتو په استثناء چې نباتات، نباتي محصولات اونور تنظیم شوي اقلام دترانزیت په جریان کې وي یا دهغه له منځه تلل متصور وي یا دهغو په ورود کې دنورو دلایلو په وجه وروسته والی راغلی وي، په دې صورت کې پلټنه دواردوونکي په غوښتنه او په غیر رسمي ساعتونو کې دفیس په ورکړې سره ترسره کېدای شي.

## تفتیش در بنادر سرحدی

مادۀ شانزدهم:

(۱) نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده حین ورود در بنادر سرحدی تفتیش می گردد.

(۲) هرگاه بارجامه مهرولاک ونشانی گردیده باشد، نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده به اساس درخواست تورید کننده درمقصد نهایی تفتیش می گردد.

(۳) تفتیش که مطابق فقره های (۱و۲)این ماده صورت می گیرد در ساعات رسمی اجراء می گردد، به استثنای حالاتیکه نباتات، محصولات نباتی و سایراقلام تنظیم شده در جریان ترانزیت بوده یا امکان از بین رفتن آن متصور باشد و یا در ورود آنها به دلایل دیگر تاخیر بعمل آمده باشد، دراین صورت تفتیش طبق درخواست واردکننده و تأدیه فیس درساعات غیررسمی صورت گرفته می تواند.

## له پلټنې وروسته شرطونه او اقدامات

**اوو لسمه ماده:**

(۱) که چېرې محموله دصـــادروونکي هېواد دنباتي روغتيا ساتنې تصديق ليـــک ولري او دپلټنې څخه وروسته جوته شي چې د قرنطيني نباتي آفت دخپرېـــدوخطر اود غيرقرنطيني تنظـــيم شـــوي آفـــت اقتصادي اغېزې شتون نه لري، پلټونکی محموله دليکلـــې خبرتيـــا پـــه ذريعـــه واردوونکي ته ابلاغوي اوګمرک ته يـــې سپاري.

(۲) د ګمرک مامورين ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوي خبرداري په ليدلو سره، محمولې تـــه د وارديـــدو اجـــازه ورکوي.

(۳) که چېرې دپلټنې په جريـــان کـــې معلومه شي چې د واردشوي محمولې يوه برخه ياټوله په نباتي آفـــت ککـــړه ده، پلټونکی محموله دروي او په لنډ وخـــت کې دليکلې خبرتيا په ذريعه واردوونکی خبروي چې دټاکلي مودې په ترڅ کـــې

## شرایط و اقدامات بعد از تفتیش

**مادۀ هفدهم:**

(۱) هرگاه محموله دارای تصدیق نامـــه حفظ الصحۀ نباتی کشورصادرکننده باشد وبعد ازتفتیش معلوم گردد که خطری از ورود و انتشار آفت نبـــاتی قرنطینـــی و تاثیرات اقتصادی آفـــت نبـــاتی تنظـــیم شده غیرقرنطینی وجود نـــدارد، مفـــتش محموله را ذریعه اطلاعیـــه کتبـــی بـــه وارد کننده ابـــلاغ ومحـــول گمـــرگ می نماید.

(۲) مـــامورین گمـــرک محمولـــه را برویت اطلاعیه کتبـــی منـــدرج فقـــرۀ (۱) ایـــــن مـــــاده ، اجـــازه ورود میدهند.

(۳) هرگاه در جریان تفتیش معلوم گردد که تمام یا بخشی از محمولـــه توریـــدی ملوث به آفت نباتی بوده، مفتش محموله را متوقف نموده و به اسرع وقت تورید کننده را ذریعه اطلاعیـــه کتبـــی مطلـــع می نماید که تمامی یا بخشی از نباتات،

دنباتاتو، نباتي محصولات اونورو تنظـــیم شوو اقلامو یوه برخه یاتولـــه چـــې پـــه خبرتیاکې مشخص کېږي دلاندې اقداماتو تابع دي:

۱- د خطر دلېرې کولو په موخه مناسبه تداوي.

۲- صادروونکي هېوادته مستردول.

۳- له منځه وړل.

(۴) که چېرې وارد شوي نباتات، نباتي محصولات اونور تنظیم شوي اقلام پـــه داسې ډول په نباتي آفت ککړ وي چې له منځه وړلوته یـــې عاجلـــه اړتیـــا وي او واردوونکي ته خبر ورکول هم ممکن نه وي، پلټونکی کولی شي دهغې په له منځه وړلو اقدام وکړي.

(۵) که چېرې نباتات، نباتي محصولات او نور تنظیم شوي اقلام له ورود، تداوي یا ضدعفوني کولو وروسته د واردوونکي له خوا له مطالبې پرته پاتې شي، مفـــتش کولای شي له احوالوسره سم، دقرنطین اونباتاتو د ساتنې د ادارې په موافقه (۱۵)

محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده در خـــلال مدت معین که در اطـــلاعیه مشـــخص می گردد تابع اقدامات ذیـــل می باشد:

۱- تداوی مناسب بـــه منظـــور رفـــع خطر.

۲- مسترد نمودن به کشور صادرکننده.

۳- محو.

(۴) هرگاه نباتات، محصولات نبـــاتی و ســـایر اقـــلام تنظـــیم شـــده توریـــدی طوری ملوث به آفت نباتی بـــوده کـــه نیازعاجل به محو آنهـــا باشـــد و دادن اطـــلاع بـــه توریـــد کننـــده ممکـــن نباشد، مفتش می تواند به محو آن اقدام نماید.

(۵) هرگاه نباتات، محصولات نبـــاتی و سایر اقلام تنظیم شده بعد از ورود یا بعد از تداوی و ضد عفونی کردن از طـــرف توريد كننده بدون مطالبه بـــاقی بمانـــد، مفتش می تواند به موافقه اداره حفاظـــت نباتات وقرنطین حسب احـــوال در ظرف

ورځو په ترڅ کې په دې برخه کې تصمیم ونیسي.

(٦) ددې مادې په (۳، ۴ او۵) فقروکې دلګښتونو درج شوي اجراآت د واردوونکي پرغاړه دي. په هغه صورت کې چې یادو لګښتونو د قرنطیني ځانګوله خوا صورت موندلی وي، واردوونکی د هغه په ورکړې مکلف دی.

(۷) قرنطینی ځانګې هېوادته د واردو شوو نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو قلمونو له منځه وړلوڅخه چې ددې قانون دحکمونو مطابق صورت مومي، مسئولې نه دي.

(۸) قرنطیني ځانګې دقرنطین او نباتاتو دساتنې د عالي کمیټې په موافقې له مرضونو او نباتي آفتونو څخه دنباتي سرچینو او چاپېریال د ساتنې په منظور، لاندې تدبیرونه نیسي:

۱- د نبات، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو، هر ډول اقلامو د واردولو منع یا محدودول.

(۱۵) روز درمورد تصمیم اتخاذ نماید.

(٦) مصارف اجراآت مندرج فقره های (۳، ۴ و ۵) این ماده به عهده تورید کننده می باشد. درصورتی که مصارف مذکور از طرف شعبات قرنطینی صورت گرفته باشد تورید کننده مکلف به پرداخت آن می باشد.

(۷) شعبات قرنطینی ازمحو محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده توریدی به کشورکه مطابق احکام این قانون صورت می گیرد، مسئول نمی باشد.

(۸) شعبات قرنطینی به منظور حفاظت منابع نباتی و محیط زیست از امراض و آفات نباتی، به موافقه کمیته عالی حفاظت نباتات وقرنطین تدابیر ذیل را اتخاذ می نماید:

۱- منع یا محدود ساختن ورود هر نوع نبات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده.

۲- د علمي او تجربوي ګټې اخيستنې په مقصد دهرډول نبات، نباتي محصولاتو اونورو تنظيم شوو اقلامو واردولوته اجازه ورکول.

۳- د قرنطين شوي نباتي آفت له واردېدو او خپرېدو څخه د مخنيوي په خاطر د اړتياوړ نور اقدامات.

## دفيس ورکړه

اتلسمه ماده:

(۱) هغه نباتات، نباتي محصولات او نور تنظيم شوي اقلام چې ددې قانون له حکمونو سره سم کنترول او پلټل کېږي د خدمت له وړاندې کولو سره متناسب، د فيس د ورکړې تابع دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی فيس د قرنطين او نباتاتو د ساتنې د عالي کميټې په وړانديز او د وزيرانو شوري په منظوری ټاکل کېږي اودقرنطيني ځانګو له لوري تحصيل او ددولت د وارداتو په حساب کې بانک ته تحويلېږي.

۲- اجازه ورود هر نوع نبات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظيم شده به مقصد استفاده علمی و تجربوی.

۳- ساير اقدامات مورد ضرورت جهت جلوگيری از تورید و شيوع آفت نباتی قرنطين شده.

## پرداخت فيس

مادۀ هجدهم:

(۱) نباتات، محصولات نباتی و سايراقلام تنظيم شده که مطابق احکام اين قانون کنترول و تفتيش می گردد متناسب به عرضه خدمت، تابع پرداخت فيس می باشد.

(۲) فيس مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به پيشنهاد کميتۀ عالی حفاظت نباتات وقرنطين و منظوری شورای وزيران تعيين وازطرف شعبات قرنطينی تحصيل وبه حساب واردات دولت تحويل بانک می گردد.

## نباتي قرنطيني مرکزونه

**نولسمه ماده:**

(۱) د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو دکتلو، نباتي روغتيا ساتنې، پلټنې، څېړنې، آزمېښت، درملنې، درولو او له منځه وړلو په منظور، ځينې سيمې دنباتاتو د قرنطين د مرکزونو په توګه ټاکي.

(۲) د قرنطين اونباتاتو دساتنې اداره کولای شي وارد شوي اقلام په قرنطيني مرکزونو يا نورو سيموکې وساتي، وکري، يا تر څارنې لاندې ونيسي.

(۳) اړوند وزارتونه او هوايي شرکتونه مکلف دي چې دقرنطيني شعبو د فعاليتونو لپاره په سرحدونو اوهوايي ډګرونوکې مناسب ځايونه د هغو په واک کې ورکړي اولازمې آسانتياوې ورته برابرې کړي.

## مراکز قرنطین نباتی

**مادۀ نزدهم:**

(۱) ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین به منظورمشاهدات، حفظ الصحۀ نباتی، تفتیش، تحقیق، آزمایش، تداوی، توقف، محو ونگهداری نباتات، محصولات نباتی و سایراقلام تنظیم شده، ساحات را به حیث مراکزقرنطین نباتی تعیین می نماید.

(۲) ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین می تواند اقلام توریدی را در مراکز قرنطینی یا ساحات دیگر نگهداری یا کشت ویا تحت نظارت قرار دهد.

(۳) وزارت های ذیربط وشرکت های هوایی مکلف اند که محلات مناسب را درسرحدات و میدان های هوایی غرض فعالیت شعبات قرنطینی، به اختیار آنها قرارداده وتسهیلات لازم را فراهم نمایند.

## څلورم فصل

## دنباتي روغتياساتنې اقدامات

### دمعيارونو رعايتول

**شلمه ماده:**

د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره مکلفه ده د خطر د ارزونې په منظور لاندې معيارونه په پام کې ونيسي:

۱- د شرايطو، بدلونونو اونويو معلوماتو په پام کې نيولوسره د نباتي روغتيا ساتنې د تدبيرونو لغو کول يا تعديل.

۲- د نباتي روغتياساتنې دتخنيکي او اقتصادي امکاناتو دعملي کېدو په صورت کې د محدوديتونو، نه وضع کول.

۳- د بين المللي شته معيارونو پربنسټ يادهغو دنه شتون يانه تطبيق په صورت کې، علمي اصولو او شواهدو ته په پام سره د نباتي روغتياساتنې د تدبيرونو نيول.

۴- له اوضاعو، احوالو او هغو خطرونو سره په مطابقت کې چې د انسان اوحيوان ژوند او روغتيا ته متوجه وي، دنباتي روغتيا ساتنې دتدبيرونو مناسبه ارزونه.

## فصل چهارم

## اقدامات حفظ الصحهٔ نباتی

### رعایت معیارها

**مادهٔ بیستم:**

ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین مکلف است، به منظور ارزیابی خطر معیارهای ذیل را رعایت نماید:

۱- لغو یا تعدیل تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی بانظرداشت معلومات، تغییرات و شرایط جدید.

۲- عدم وضع محدودیتها درصورت عملی شدن امکانات اقتصادی وتخنیکی حفظ الصحهٔ نباتی.

۳- اتخاذ تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی براساس معیارهای بین المللی موجود یا درصورت عدم موجودیت ویا عدم تطبیق آن بانظرداشت اصول وشواهد علمی.

۴- ارزیابی مناسب تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی درمطابقت با اوضاع، احوال وخطراتیکه متوجه حیات وصحت انسان،حیوان یا نبات باشد.

۵- د خطر د ارزونې په وخت کــې، د شته وو علمي شــواهدو، توليـــدي او د پلټنې، ازمېښتي او نمـــونې اخيســـتنې د تګلارو، د نباتي خاص آفت د خپرېدو، له نباتي آفت څخه د خلاصو سيمو، د ژوند د چاپېريال د شــرايطو، ايکـــالوژيکي، قرنطيني او نورو مناسبو اقداماتو په پام کې نيول

٦- د نباتي روغتيا ساتنې د هغو بـــديل اقداماتو ارزونه او منل چې د صادروونکي هېواد په واسطه وړانديز کېږي، پــه دې شرط چې له ستندرد سره مطابقت ولري اوساتنه (خونديتوب) په هماغه ټاکلې کچه برابره کړي.

## دنباتي روغتيا ساتنې له تدبيرونو څخه خبر ورکول اوخپرول

**يوويشتمه ماده:**

(۱) د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره د نباتي روغتيا ساتنې تدبيرونه، له تطبيـــق څخه (۳۰) ورځې وړاندې ديوې ټوليزې رسنۍ له لارې خپروي، دنباتي روغتيـــا

۵- درنظرگرفتن شواهد علمی موجود، روش هـــــای توليـــدی، تفتيشــــی، نمونـــه گيـــری و آزمايشــــی، شــيوع آفت خـــاص نبـــاتی، ســـاحات عـــاری ازآفت نباتی، شرايط محـــيط زيســـتی، ايکالوژيکی وقرنطينی وساير اقـــدامات مناســـــــب حـــــين ارزيـــــابی خطر.

٦- ارزيابی اقدامات حفظ الصحهٔ نباتی بديلی کـــه توســـط کشورصـــادرکننده پيشنهاد می گردد وپذيرش آن مشـــروط براينکه درمطابقت به ســـتندرد بـــوده و حفاظت را به همان سطح معين فـــراهم نمايد.

## اطلاع دهی ونشر تدابير حفظ الصحه نباتی

**مادهٔ بيست ويکم:**

(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطين تدابير حفـــظ الصـــحهٔ نبـــاتی را (۳۰)روز قبل ازتطبيق آن دريکی ازرســـانه هـــای همگانی به نشر مـــی رســـاند، حـــالات

ساتنې اضطراري حالتونه او هغه تدبيرونه چې سوداګريز محدوديت کموي، لـدې حکم څخه مستثني دي او له تطبيق څخه وروسته خپرېږي.

(۲) دقرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره مکلفه ده د نباتي روغتيا ساتنې دنيـول شوو او وړانديز شوو تدبيرونو په هکلـه معلومات ترلاسه کړي او په دې هکلـه دنړۍ د سوداګريز سـازمان د موافقـه ليکونو په پام کې نيولوسره، هغه سازمان ته خبر ورکړي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کـې ددرج شوو تدبيرونو په هکله دنړۍ دسوداګريز سازمان له خـوا رسـېدلې نظريـې او وړانديزونه له خپرېدو اوخبرتيا  وروسته په نه توپيري توګه ددې ډول اقداماتو لـه نيولو وړاندې، په پام کې نيول کېـږي، دنباتي روغتيا ساتنې اضطراري حالتونـه لدې حکم څخه مستثني دي.

(۴) د نباتي روغتيا ساتنې هغه وړانـديز شوي تدبيرونه چې د بين المللي معيارونو

اضـطراری حفـظ الصـحۀ نبـاتی و تدابیریکه محدودیت تجارتی را کـاهش دهد، از این حکم مستثنی بوده و بعد از تطبیق نشر می گردد.

(۲) ادارۀ حفاظت نباتـات و قـرنطین مکلف است درمورد تدابیر حفظ الصحه نباتی اتخـاذ شـده و پیشـنهاد شـده معلومـات را دریافـت ودرمـورد بـا در نظر داشت موافقت نامه های سازمان تجارت جهانی به آن سـازمان  اطـلاع دهد.

(۳) نظریات و پیشنهادات واصله ازطریق سازمان تجارت جهانی پیرامون تـدابیر مندرج فقرۀ (۲) این ماده بعد ازنشـر و اطلاع دهی بطور غیر تبعیض آمیز قبل از اتخـاذ چنـین اقـدامات در نظـر گرفته می شـود، حـالات اضـطراری حفظ الصحۀ نباتی ازاین حکم مسـتثنی می باشد.

(۴) تدابیر حفظ الصحۀ نباتی پیشـنهاد شده که با معیـار هـای بـین المللـی

سره مطابقت ونلري، خو له افغانستان سره د تجارت کوونکو هېوادونو پر صادراتي فرصتونو باندې اغیز ولري، دغه ډول تدبیرونه تر پوښښ لاندې محصول په شمول د نوموړو وړاندیز شوو تدبیرونو د موخې اوعلت په هکله له لنډو معلوماتوسره د وروستنۍ مسودې له برابرولو څخه (۶۰) ورځې دمخه خبر ورکول کېږي.

(۵) د قرنطین او نباتاتو د ساتنې اداره کولای شي دعلاقه لرونکو حقیقي یا حکمي اشخاصو له لیکلي غوښتنې سره سم دنباتي روغتیا ساتنې دتدبیرونو د مسودې متن هغوی ته وړاندې کړي او د امکان په صورت کې په هغه کې هغه حکمونه چې له بین المللي معیارونو، لارښوونو اوسپارښتنو سره په تناقض کې وي، مشخصوي.

(۶) د قرنطین او نباتاتو دساتنې اداره کولای شي کورني یابهرني شخص په غوښتنه د نباتې روغتیا ساتنې دتدبیرونو،

مطابقت نداشته ولی بر فرصت های صادراتی کشور های تجارت کننده با افغانستان موثریت داشته باشد، این نوع تدابیر (۶۰) روز قبل از تهیه مسوده نهائی به شمول محصول تحت پوشش با معلومات مختصر در مورد هدف وعلت تدابیر پیشنهاد شده مذکور اطلاع داده می شود.

(۵) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند حسب تقاضای کتبی اشخاص حقیقی یا حکمی ذیعلاقه متن مسوده تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی را به آنها ارایه نموده و در صورت امکان احکامی را که با معیارها، رهنمودها و سفارشات بین المللی در تناقض باشد، درآن مشخص می کند.

(۶) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند به اساس تقاضای شخص داخلی یا خارجی هر نوع معلومات را در مورد

نباتاتو، نباتي محصولاتو اونورو تنظـیم شوو اقلامو په هکله هرډول معلومــات وړاندې کړي.

**دنباتي روغتیا ساتنې داقداماتو نیول، کنترول اوپلټنه**

**دوه ویشتمه ماده:**

د قرنطین اونباتاتو د ساتنې اداره مکلفه ده د هغهٔ اقل حدته دسوداګریز محدودیت د راټیټولو په خاطر د کنترول، تفتـیش او نباتي روغتیا ساتنې د تدبیرونو د نیولو په وخت کې له ځنډ او تبعیض پرته لانــدې موارد په پام کې ونیسي:

۱- د هرتدبیر د تطبیق لپاره د وړانــدیز شوې مودې خپرول یا لدې مودې څخــه دمتقاضي شخص له غوښتنلیک سره سم، د هغهٔ خبرول.

۲- د پلټنې په بهیر کې د نیمګړتیا (تشې) د موندنې په صورت کې په محرمانه توګه متقاضي شخص ته دمعلومــاتو وړانـــدې کول.

۳- له تولیداتو او وارداتو څخه دمحصول

تدابیر حفظ الصحهٔ نبـــاتی و نباتـــات، محصولات نباتی وسایر اقلام تنظیم شده ارایه نماید.

**کنترول، تفتیش و اتخاذ اقــدامات حفظ الصحه نباتی**

**مادهٔ بیست ودوم:**

ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مکلــف است حین کنترول، تفتیش و اتخاذ تدابیر حفظ الصــحهٔ نبــاتی غــرض کــاهش محدودیت تجارتی به حد اقل آن، موارد ذیل را بدون تأخیر و تبعــیض رعایــت نماید:

۱- نشر مدت زمان پیش بینی شده برای تطبیق هر تدبیر یا آگاه نمودن شــخص متقاضی از این مــدت زمــان حســب درخواست وی.

۲- ارایــــه معلومــــات طــــور محرمانــــه بــــه متقاضـــــی در صــورت دریافــت خـــلا درجریـــان تفتیش.

۳- اخذ نمونهٔ محصول از تولیــدات و

د نمونې اخيستل او د کنترول، پلټنې او د اړتيا له مخې دمحدودې نباتي روغتيا ساتنې په مقصد پرهغوی ديوشان معيارونو تطبيقول.

## دخطر ارزونه

**درويشتمه ماده:**

د قرنطين اونباتاتو د ساتنې اداره دانسان، حيوان يانبات ژوند يا روغتيا ته دخطر د ارزونې اودتطبيق وړ نباتي روغتيا ساتنې داقداماتو دتشخيص په وخت کې لاندې موارد داقتصادي عواملو په توګه ترنظرلاندې نيسي:

۱- د تنظيم شوو نباتي اقلامو د توليد يا خرڅلاو له کمېدوڅخه راپيداشوی احتمالي تاوان (زيان) چې دواردېدو، استقرار يادنباتې آفت د خپرېدو په وخت کې منځ ته راځي.

۲- د واردوونکي هېواد په قلمروکې دکنترول او يا له منځه وړلو لګښتونه.

۳- دخطرونو د کمولو په خاطر نورې بديلې لارې چارې چې په نسبي ډول

واردات وتطبيق معيارهای يکسان بالای آنها به مقصد کنترول، تفتيش و تدابير حفظ الصحهٔ نباتی محدود حسب ضرورت.

## ارزيابی خطر

**مادهٔ بيست و سوم:**

ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطين حين ارزيابی خطر به حيات يا صحت انسان، حيوان يا نبات و تشخيص اقدامات حفظ الصحهٔ نباتی قابل تطبيق، موارد ذيل را به حيث عوامل اقتصادی در نظر می گيرد:

۱- خساره احتمالی ناشی از کاهش توليد يا فروش اقلام تنظيم شده نباتی که حين ورود، استقرار يا شيوع آفت نباتی به ميان می آيد.

۲- مصارف کنترول يا محو در قلمرو کشور توريدکننده.

۳- سايرطرق بديل غرض کاهش خطرات که بطور نسبی ارزان تمام

ارزاني تمامېږي.

**له سیمه ییزو خصوصیاتو سره سم دنباتي روغتیا ساتنې تدبیرونه**

**څلېرویشتمه ماده:**

(۱) د قرنطین او نباتاتو د ساتنې اداره مکلفه ده، دنباتي روغتیا ساتنې ټول تدبیرونه دنباتاتو سیمه ییزو ځانگړتیاوو ته په پام سره ونیسي.

(۲) دیوې سیمې د ځانگړتیاوو د ارزونې په منظور لاندې موارد په پام کې نیول کېږي:

۱- د نباتي آفت د عمومیت سطح.

۲- د نباتي آفت دکنترول د برنامې شتون.

۳- هغه لارښوونې چې دبین المللي اړوندو سازمانونو په واسطه چمتو شوي دي.

(۳) په هېواد او په نورو هېوادونو کې له نباتي آفت څخه پاکې یا دنباتي آفت د خپرېدو دټیټې سطحې درلودونکې سیمې، دعلمي شواهدو پربنسټ

می شود.

**تدابیر حفظ الصحه نباتی طبق خصوصیات منطقوی**

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱) ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است، تمام تدابیر حفظ الصحۀ نباتی را بانظرداشت خصوصیات منطقوی نباتات اتخاذ نماید.

(۲) به منظورارزیابی خصوصیات یک منطقه موارد ذیل در نظر گرفته می شود:

۱- سطح عمومیت آفت نباتی.

۲- موجودیت برنامه کنترول آفت نباتی.

۳- رهنمود های که توسط سازمان های بین المللی ذیربط تهیه گردیده است.

(۳) ساحات عاری از آفت نباتی یا دارای سطح پایین شیوع آفت نباتی درکشور و سایر کشورها به اساس شواهد علمی مشخص

مشخصېږي.

**د نباتي روغتياساتنې په تدبيرونو کې نه توپير**

**پنځه ويشتمه ماده:**

د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره دې دنباتي روغتيا ساتنې د تدبيرونو د نيولو او تطبيق په وخت کې د ورته شرايطو لرونکو هېوادونو ترمنځ له تبعيض څخه ډډه وکړي او يادې تدبيرونه په داسې ډول اعمال کړي چې پر بين المللي سوداګرۍ محدوديت وضع نه شي.

## پنځم فصل

## دنباتي آفت محدودول او له منځه وړل

**دتنظيم شوي نباتي آفت اعلام**

**شپږويشتمه ماده:**

(۱) د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره کولای شي، نباتي آفت د هغه د خطر د تحليلولو پربنسټ، دقرنطين شوي نباتي آفت يا دتنظيم شوي غير قرنطيني آفت په

می گردد.

**عدم تبعیض در تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی**

**مادهٔ بیست وپنجم:**

ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین حین اتخاذ وتطبیق تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی از تبعیض بین کشورهای دارای شرایط یکسان یا مشابه امتناع نموده وتدابیر مذکور را طوری اعمال نمایدکه محدودیت به تجارت بین المللی وضع نگردد.

## فصل پنجم

## محدود نمودن و محو آفت نباتی

**اعلام آفت نباتی تنظیم شده**

**مادهٔ بیست و ششم:**

(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند، آفت نباتی را به اساس تحلیل خطرآن، بحیث آفت نباتی قرنطین شده یا آفت نباتی تنظیم شده غیر قرنطینی اعلام

توګه اعلام کړي.

(۲) د قرنطیني نباتي آفتونــو اودتنظــیم شــوو نبــاتي غیــر قرنطینــي آفتونــو دفهرست او اعلام ډول په ځانګړې مقرره کې تنظیمېږي.

د غیرقرنطیني نباتي تنظیم شوو آفتونو کنترول اومحدودول

اووه ویشتمه ماده:

په تنظیم شوي نباتي آفت دککړو یا پــه ککړوالي دمشکوکو سیمو، له نباتي آفت څخه دپاکو سیمو یا د نبــاتي آفــت د خپرېدو دټیټې سطحې دسیمو اودحــایلې ســیمې(Buffr Zone) پــه هکلــه دکنترول اوپلټنې په وخت کــې لانــدې تدبیرونه نیول کېږي:

۱- دنباتاتو، نباتي محصولاتو اونــورو تنظیم شوو اقلامو تداوي یاله منځه وړل او دککړو اونه ککړو نقلیــه وســایطو ضدعفوني کول.

۲- له ککړو سیمو څخه دککړو نباتاتو، نباتي محصولاتو اونورو تنظیم شوو اقلامو

نماید.

(۲) طرزاعلام وفهرست آفــات نبــاتی قرنطینی و آفات نباتی تنظیم شده غیــر قرنطینی در مقــررهٔ جداگانــه تنظــیم می گردد.

کنترول و محدود نمودن آفت نباتی تنظیم شدهٔ غیر قرنطینی

مادهٔ بیست وهفتم:

درمورد ساحات ملوث یا مشکوک بــه ملــوث بــودن آفــت نبــاتی تنظــیم شده، ساحات عاری از آفــت نبــاتی، یادارای شــیوع پــایین آفــت نبــاتی، و ساحه حایل (Buffr Zone) حــین تفتــیش وکنتــرول تــدابیرذیل اتخــاذ می گردد:

۱- تداوی یا محو نباتات، محصــولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شــده و ضــد عفونی نمودن وسایط نقلیه ملوث و غیر ملوث .

۲- منع یا محدود نمودن انتقال نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده

دلېږد منع کول یامحدودول.

۳- په یوه ټاکلي سیمه کې دمشخصو نباتاتو دکرلو ممنوعیت.

۴- دنباتي روغتیا ساتنې دنورو تدبیرونو نیول.

## قرنطیني نباتي آفت څخه دخبرتیا ورکولو مکلفیت

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) مالک یاهغه شخص چې په کرنیزه ځمکه یاتأسیساتو کې فعالیت کوي، مکلف دی د نباتي آفت دشتون یا د هغه دشتون داحتمال په صورت کې د نباتاتو دساتنې ادارې یا قرنطیني شعبو ته خبرورکړي.

(۲) قرنطیني شعبو یا د قرنطین او نباتاتو د ساتنې ادارې مکلفې دي ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوې خبرتیا له لاسته راوړلو وروسته، په لنډ وخت کې د روغتیا ساتنې تدبیرونه ونیسي.

از ساحات ملوث.

۳- ممنوعیت زرع نباتات مشخص دریک ساحه معین.

۴- اتخاذ سایر تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی.

## مکلفیت اطلاع دهی از آفت نباتی قرنطینی

**مادهٔ بیست وهشتم:**

(۱) مالک یا شخصی که بالای زمین زراعتی یا تأسیسات فعالیت می نماید، مکلف است در صورت موجودیت آفت نباتی یا احتمال موجودیت آن به ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین یا شعبات قرنطینی اطلاع دهد.

(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین یا شعبات قرنطینی مکلف اند بعد ازحصول اطلاع مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی را به اسرع وقت اتخاذ نمایند.

**دلندمهاله قرنطيني سيمو اعلامول**

**نهه ويشتمه ماده:**

دقرنطين اونباتاتو دروغتيا ساتنې اداره مکلفه ده په هغه ساحه کې چې قرنطيني نباتي آفت شتون ولري ياېي دشتون احتمال متصور وي، ياده ساحه قرنطيني لنډ مهاله ساحه اعلام کړي اودقرنطيني نباتي آفت دخپرېدو دمحدودولو په منظور، دنباتاتو، نباتي محصولاتو اونورو تنظيم شوو اقلامود درملنې اوله منځه وړلو اودنقليه ککړو وسايطو دضدعفوني کولوپه خاطر، ځانګړي اقدامات وکړي.

**له نباتي آفت څخه پاکه يا دټيټې سطحې لرونکې ساحې**

**دېرشمه ماده:**

(۱) د قرنطين او نباتاتو د ساتنې اداره کولای شي په يوه ساحه کې دنباتي آفت د نه شتون او د روغتيا ساتنې د تدبيرونو له سم تطبيق څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته ياده ساحه دنباتي آفت څخه پاکه، اعلام کړي.

**اعلام ساحات قرنطینی مؤقت**

**مادهٔ بیست ونهم:**

ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است در ساحهٔ که آفت نباتی قرنطینی موجود بوده و یا احتمال موجودیت آن متصورباشد، ساحه مذکوررا ساحه قرنطینی مؤقت اعلام نموده و به منظور محدود ساختن انتشار آفت نباتی قرنطینی، جهت تداوی یا محو نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده و ضد عفونی نمودن وسایط نقلیه ملوث، اقدامات مشخص را اتخاذ نماید.

**اعلام ساحات عاری یا دارای سطح پائین آفت نباتی**

**مادهٔ سی ام:**

(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین می تواند بعد ازحصول اطمینان از نبود آفت نباتی در یک ساحه و تطبیق درست تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی ساحه مذکور را عاری از آفت نباتی، اعلام نماید.

(۲) د قرنطین او نباتاتو د ساتنې اداره کولای شي دنباتي آفت د ټیټې سطحې له شتون څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته او ددې قانون د پنځه ویشتمې مادې دحکم له پام کې نیولوسره، یاده ساحه دنباتي آفت دټیټې سطحې لرونکې اعلام کړي.

(۳) دقرنطین او نباتاتو د ساتنې اداره کولای شي دملي، سیمه ییزو او بین المللي سازمانونو دغوښتنې پربناء ددې مادې په (۱ او۲) فقرو کې ددرج شوي اعلام په اړه تخنیکي دلایل وړاندې کړي.

## په هېوادکې دننه نباتي قرنطین

یودېرشمه ماده:

(۱) په هېوادکې دننه دنباتي آفت د سرچینو، پروخت برسېرونه (کشف)، مطالعه، څېړنه اوپه کروندو، دکرنیزو محصولاتو په زېرمو اوهېوادته دقرنطیني موادو دواردېدو په ځایونوکې له هغهٔ سره مجادله اوله بیاخپراوي څخه یې مخنیوی،

(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند بعد ازحصول اطمینان ازموجودیت سطح پائین آفت نباتی وبارعایت حکم مادهٔ بیست وپنجم این قانون ساحه را دارای سطح پائین آفت نباتی اعلام نماید.

(۳) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند بنابر تقاضای سازمان های ملی، منطقوی وبین المللی، دلایل تخنیکی را در رابطه به اعلام مندرج فقره های (۱و۲) این ماده ارایه نماید.

## قرنطین نباتی در داخل کشور

مادهٔ سی ویکم:

(۱) کشف به موقع، مطالعه، تحقیق، مراقبت منابع آفت نباتی در داخل کشور و مجادله و جلوگیری از انتشار بعدی آنها در مزارع، ذخایر محصولات زراعتی مواضع ورود مواد قرنطینی به

په دايمي توګه صورت مومي.

(۲) په یوه ساحه کې دنباتي آفت دپیدا کېدو په صورت کې دهغهٔ دخپرېدو دسرچینو دمحدودولو یاله منځه وړلو په منظور فوري (سمدستي)تدبیرونه نیول کېږي.

(۳) د قرنطین وضع کول یالېرې کول د قرنطین اونباتاتو دساتنې د ادارې په وړاندیز او دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د وزیر په منظورۍ صورت مومي.

(۴) ترقرنطین لاندې داخلي سیموڅخه دنباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو لېږد دهغو شرایطو په پام کې نیولو سره صورت مومي چې دکرنې، اوبو لګولو اومالدارۍ دوزارت لخوا ټاکل کېږي.

(۵) وزارتونه، دولتي ادارې او دخصوصي تولیداتو خاوندان د قرنطین اونباتاتو دساتنې د ادارې له تصدیق پرته نشي کولای د نباتاتو، نباتي محصولاتو اونورو تنظیم شوو اقلامو پرلېږد لاس پورې

کشور طور دایمی صورت می گیرد.

(۲) در صورت کشف آفت نباتی در یک منطقه به منظور محدود ساختن و از بین بردن منابع انتشار آنها تدابیر فوری اتخاذ می گردد.

(۳) وضع قرنطین یا رفع آن به پیشنهاد ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین و منظوری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری صورت می گیرد.

(۴) انتقال نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده از مناطق تحت قرنطین داخلی با در نظر داشت شرایطی که از طرف وزارت زراعت، آبیاری و مالداری تعیین می گردد، صورت می گیرد.

(۵) وزارت ها، ادارات دولتی و مالکین تولیدات خصوصی بدون تصدیق ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین به انتقال نباتات، محصولات نباتی یاسایراقلام تنظیم شده اقدام کرده

کړي.

(٦) دولتـــي اداري، دولتـــي کرونـــدې ( فارمونه)، دخصوصي توليداتو خاوندان او کروند ګر دنباتي قرنطين پــه اړونــد دلاندې مکلفيتونو لرونکي دي:

۱- د نباتي مرضونو او آفتونو دپيداکولو په منظور د ټولــو کرونــدو او چــاپيره ماحول، تحويل خانو او ترقرنطين لاندې محصولاتو دزېرموڅېړنه او منظمه کتنه.

۲- د توليد، زېرمــه کولــو، لېــږد او خرڅلاو پر وخــت دنبــاتي آفتونــو او مرضونوله خپرېدوڅخه دمخنيوي په خاطر دوقايوي تدبيرونو نيول.

۳- د نباتاتو، نباتي محصولاتو اود نباتي تخمونو دواردېدو په وخت کې دنبــاتي قرنطين قوانينو اومقرراتو ته ټينګه پاملرنه.

۴- د قرنطيني شعبو په موافقــه دنبــاتي قوريو دجوړولو لپاره دمناسب ځای ټاکل.

نمی توانند.

(٦) ادارات دولتی، مزرعه (فارم های) دولتی، مالکین تولیــدات خصوصـــی و دهاقین در رابطه به قرنطین نبــاتی دارای مکلفیت های ذیل می با شند:

۱- تحقیق و معاینه منظم تمام مزارع و ساحات ماحول آن، تحویلخانــه هــا و ذخایر محصولات نباتی تحت قرنطین، به منظور کشف امراض و آفات نباتی.

۲- اتخاذ تدابیر وقــایوی بــه منظــور جلوگیری از انتشار امراض و آفات نباتی حین تولید ذخایر انـــتقال و فــروش محصولات زراعتی.

۳- رعایت جدی قــوانین و مقــرارت قرنطین نباتی حین تورید تخــم نباتــات، نباتات و محصولات نباتی.

۴- انتخاب محل مناسب برای اعمــار قوریه نباتات به موافقه شعبات قرنطینی.

## شپږم فصل

## دنباتاتو، نباتي محصولاتو اونورو تنظیم شوو اقلامو واردول

**دواردولو شرایط**

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) ددې قانون د لسمې مادې د حکم په پام کې نیولـو سـره دنباتـاتو، نبـاتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامـو واردول په لاندې شرایطو سره جوازلري:

۱- دصادروونکي هېواد دنباتي روغتیايي تصدیق لیک درلودل.

۲- له پلټنې وروسـته د واردېـدونکو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظـیم شوو اقلامو د واردېدو اجازه ورکول.

(۲) له هغه هېوادڅخـه چـې ددولتـي اوقرنطیني ادارو لرونکي نه دي دنباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظـیم شـوو اقلامو واردېدل له تفتیش وروسته صورت مومي.

## فصل ششم

## ورید نباتات، محصولات نباتی وسایراقلام تنظیم شده

**شرایط تورید**

**مادۀ سی ودوم:**

(۱) تورید نباتات، محصولات نبـاتی و سایر اقلام تنظیم شده بارعایت حکم مادۀ دهم این قانون تحت شرایط ذیل مجـاز می باشد:

۱- داشتن تصدیق نامه صـحی نبـاتی کشور صادر کننده.

۲- اعطـای اجـازه ورود نباتـات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده توریدی بعد از تفتیش.

(۲) توریـد نباتـات، محصـولات نبـاتی وسـایراقلام تنظـیم شـده از کشـوری کـه دارای ادارات دولتـی، قرنطینی نباشد بعد از تفتـیش صـورت می گیرد.

## ددولتي ادارو او نورو واردوونکو مؤسساتو مکلفیت

**دري دېرشمه ماده:**

واردوونکې دولتي اوخصوصي ادارې مکلفې دي له بهرنیو هېوادونو سره هېواد ته اوله هېواد څخه بهرته د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو د واردېدو په برخه کې د سوداګریز قرارداد د عقدولو په وخت کې، د قرنطین اونباتاتو د ادارې موافقه ترلاسه کړي.

## دمتخصصینو توظیفول

**څلور دېرشمه ماده:**

که چېرې افغانستان له نورو هېوادونو سره دکرنیزو محصولاتو سوداګریزې اړیکې ولري، د اړتیا په وخت کې د نباتي آفت له لېږد څخه دراپیداشوو زیانونو د مخنیوي په منظور دقرنطین اونباتي آفت دساتنې د ادارې متخصصین، داستازي په ډول توظیفېږي.

## مکلفیت ادارات دولتی وسایرمؤسسات تورید کننده

**مادۀ سی وسوم:**

ادارات دولتی وخصوصی تورید کننده مکلف اند حین عقد قرارداد تجارتی با کشورهای خارجی در قسمت انتقال نباتات، محصولات نباتی وسایراقلام تنظیم شده به کشور یا از کشور به خارج، موافقه ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین را کسب نمایند.

## توظیف متخصصین

**مادۀ سی وچهارم:**

هرگاه افغانستان با سایرکشورها روابط تجارتی محصولات زراعتی داشته باشد، به منظور جلوگیری از خسارات اقتصادی ناشی از انتقال آفت نباتی متخصصین ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین منحیث نماینده عندالضرورت توظیف می گردند.

## په بکسونوکې دنباتي محصولاتو واردول

**پنځه دېرشمه ماده:**

دهغو نباتي محصولاتو واردېدل چې له بهرنيو هېوادونو څخه دسياسي، قونسلي استازو او د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې دمېشتو سوداګريزو استازو په بکسونو کې واردېږي يادپست اوبستو له لارې هغوی ته لېږل کېږي، دبهرنيو قرنطيني معيارونو اومقرراتو مطابق، په دې هکله اجراآت صورت مومي.

## له بارولو وړاندې خبرورکول

**شپږدېرشمه ماده:**

دنباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو صادروونکی مکلف دی له بارولو څخه د مخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې دقرنطين اونباتاتو دساتنې ادارې ياقرنطيني څانګوته خبر ورکړي او دصادرېدو له نېټې څخه (۱۰) ورځې دمخه، دپلټنې په غرض نوموړی فيس ورکړي.

## تورید محصولات نباتی دربکس ها

**مادۀ سی وپنجم:**

ورود محصولات نباتی که ازکشورهای خارجی در بکس های نمایندگان سیاسی، قونسلی و نمایندگان تجارتی مقیم جمهوری اسلامی افغانستان تورید ویا از طریق پست و بسته به آنها ارسال می گردد مطابق به معیارها و مقررات قرنطین خارجی در مورد اجراآت صورت می گیرد.

## اطلاع دهی قبل ازبارگیری

**مادۀ سی وششم:**

صادر کننده نباتات، محصولات نباتی وسایر اقلام تنظیم شده مکلف است که درخلال (۳۰) روز قبل از بارگیری به ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین یا شعبات قرنطینی اطلاع داده و (۱۰) روز قبل از موعد صدور، فیس مذکور را غرض تفتیش تأدیه نماید.

## اووم فصل

## متفرقه حکمونه

**مؤیدې**

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې جواز لیک له اخیستلو پرته دنباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو په واردولو لاس پورې کړي، دقانون دحکمونو مطابق ترعدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

(۲)که چېرې واردوونکی په بندرکې دمحمولې له رسېدو څخه قرنطیني شعبو ته خبر ورنکړي، د پلټنې دفیس پر ورکړې برسېره، د (۱۰۰۰۰) لس زرو افغانیو نقدي جریمې په ورکړه هم مکلف دی.

(۳) که چېرې جواز لیک د اعتبار د مودې له ختمېدو وروسته د یوې میاشتې په ترڅ کې تمدید نشي، لرونکی یې د بیې پر ورکړې برسېره د (۲۰۰۰۰) شلو زرو افغانیو نقدي جریمې پر ورکړه هم مکلف دی.

## فصل هفتم

## احکام متفرقه

**مؤیدات**

**مادۀ سی وهفتم:**

(۱) شخصی که بدون اخذ جوازنامه به تورید نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده مبادرت ورزد، مطابق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرار می گیرد.

(۲) هرگاه تورید کننده از رسیدن محموله در بندر به شعبات قرنطینی اطلاع ندهد، علاوه برتأدیه فیس تفتیش مکلف به پرداخت جریمه نقدی مبلغ (۱۰۰۰۰) ده هزارافغانی نیز می باشد.

(۳) هرگاه جواز نامه بعد از ضم میعاد اعتبار آن در خلال یکماه تمدید نگردد علاوه بر تأدیه قیمت تمدید، دارندۀ آن مکلف به پرداخت جریمۀ نقدی مبلغ (۲۰۰۰۰) بیست هزار افغانی نیز می باشد.

(۴) کــه چېــرې صـــادروونکی یـــا واردوونکی، اړوند فیسونه ادانکـــړي، د فیس پرورکړې برسېره، د هغــه معـــادل نقدي جریمې پر ورکړه مکلف دی.

(۵) که چېري پلټونکی د خبرتیا له رسید وروسته د (۳) ورځو په تــرخ کــې د محمولې په پلټنه لاس پورې نه کــړي، د قانون د حکمونو مطابق، تأدیبېږي.

(٦) هغه شخص چې په کرنیزه ځمکــه فعالیت کوي، مؤظف دی چې د قرنطین او نباتاتو د ساتنې ادارې یـــا قرنطینـــي څانگوته د نباتي آفت له شتون یا د شتون له احتـــمال څخـــه ژر تـــر ژره خبـــر ورکړي.

د نباتاتو او د قرنطین د ساتنې اداره مکلفه ده چې د آفاتو په تداوي او دفعې باندې عاجل اقدام وکړي او هغه اشخاص چې د نباتاتو د ساتنې او قـــرنطین د ادارې او امنیتـــي ارگـــانونو لخـــوا د اقتصـــادي سبوتاژگرانو او کرنیزو آفاتو د خپرېدونکو په توگه تثبیتېږي د جزاء د قانون مطابق

(۴) هرگاه صادرکننده یاتورید کننـــده، فیس های مربوط را تأدیه ننماید، علاوه برتأدیه فیس، مکلف به پرداخت جریمـــه نقدی معادل آن می باشد.

(۵) هرگاه مفتش در خلال (۳) روز بعد از رسیدن اطلاعیه، به تفتـــیش محمولـــه اقدام نه نماید، طبق احکام قانون تأدیب می گردد.

(٦) شخصی که بالای زمـــین زراعتـــی فعالیت می نماید مؤظف اســـت کـــه از موجودیت آفت نباتی یا احتمال موجودیت آن به ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین یـــا شعبات قرنطینی به اسرع وقت اطـــلاع دهد.

ادارۀ حفاظـــت نباتـــات و قـــرنطین مکلف اســـت بـــه تـــداوی آفـــات و دفع آن اقدام عاجل نماید و اشخاصی که از طـــــرف ارگانهـــــای امنیتـــــی و ادارۀ حفاظـــت نباتـــات و قـــرنطین بحیث سبوتاژگران اقتصادی و منتشرین آفات زراعتی تثبیت می گردد مطابق قانون

دې په مجازاتو محکوم کړي.

(۷)که چېرې مالک یاهغه شخص چې په کرنیزه ځمکه فعالیت کوي، دقرنطین او نباتاتو د ساتنې ادارې یا قرنطیني شعبو ته د نباتي آفت له شتون یـا د شـتون لـه احتمال څخه خبر ورکـړي او دیـادې ادارې یا شعبې مسئولین د هغه د مخنیوي په هکله هېڅ اقدام ونه کـړي، دقـانون دحکمونو مطابق تأدیبېږي.

## دتحصیل شوومبالغو تحویلول

اته دېرشمه ماده:

قرنطیني شعبې مکلفې دي تحصیل شوي مبالغ د (۱۰) ورځو په ترڅ کې ددولت د ورداتو په حساب بانک ته تحویل کړي پرته له دې، د یادو مبالغو پر تحویلولـو برسېره دهغو د معادل (۱۰) سلنې نقدي جریمې پر ورکړې مکلفې دي.

## دادارو همکاري

نهه دېرشمه ماده:

(۱) د سوداګرۍ اوصنایعو وزارت، مالیې وزارت دګمرکونو اداره او نورې اړوندې

جزاء محکوم به مجازات نمایند.

(۷) هرگاه مالک یا شخصی که بـالای زمین زراعتی فعالیـت مـی نمایـد، از موجودیت آفت نباتی یا احتمال موجودیت آن، به ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین یا شعبات قرنطینی اطلاع دهد و مسـئولین اداره یا شعبه مذکور در مورد جلوگیری آن اقدام ننماید، طبق احکام قانون تأدیب می گردد.

## تحویلی مبالغ تحصیل شده

مادۀ سی وهشتم:

شعبات قرنطینـی مکلـف انـد مبـالغ تحصیل شده را درخلال (۱۰) روز بـه حساب واردات دولت تحویـل بانـک نمایند در غیر آن علاوه بر تحویل مبالغ مذکور مکلف به پرداخت جریمه نقـدی معادل (۱۰) فیصد آن می باشند.

## همکاری ادارات

مادۀ سی ونهم:

(۱) وزارت تجـارت و صـنایع، ادارۀ گمرکات وزارت مالیه وسـایر ادارات

اداري مکلفې دي، دکرنې، اوبو لګولـــو اومالدارۍ له وزارت سره دنباتاتو دساتنې اونباتي آفتونو دکنترول په برخــه کــې، همکاري وکړي.

(۲) دګمرکونو مســئولین مکلــف دي هېوادته د هغومحصولاتو د واردولو اجازه ورکړي چې د قرنطیني شعبو له لوري يې هغوی ته د تورید اجازه ورکړل شــوې وي.

## دمقررو وړاندیز

**څلوېښتمه ماده:**

دکرنې، اوبولګولو او مالـــدارۍ وزارت کولای شي، ددې قانون دحکمونو د ښه تطبیق په منظور دمقررو وړانـــدیز، هغــه کړنلارې او لارښودونه چې ددې قانون له حکمونو سره مغـــایر نــه وي، وضــع کړي.

## انفاذ

**یوڅلوېښتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې دخپرېدو له نېټې څخه نافذ او په نافذېدو سره یــې

ذیربط مکلف اند بــا وزارت زراعــت، آبیاری و مالداری در زمینه حفاظت نباتات و کنتــرول آفــات نبــاتی همکــاری نمایند.

(۲) مســئولین گمرکــات مکلـــف انــد اجــازۀ ورود محصــولاتی را بــه کشور بدهنــد کــه اجــازه توریــد آن از طرف شعبات قرنطینی به آنها اعطــاء گردیده باشد.

## پیشنهاد مقرره ها

**مادۀ چهلم:**

وزارت زراعت،آبیـــاری ومالـــداری می تواند به منظور تطبیق بهتراحکام این قـــانون مقـــرره هـــا را پیشـــنهاد، طرزالعمـــل هـــا ورهنمودهـــا را کـــه مغایراحکام این قـــانون نباشـــد، وضـــع نماید.

## انفاذ

**مادۀ چهل ویکم:**

این قانون ازتاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن، قانون خدمات قرنطین

د۱۴۲۱ هـ.ق کال په (۷۹۵) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی دنباتي قرنطین دخدمتونو قانون، لغوکېږي.

نباتی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۹۵) سال ۱۴۲۱هـ.ق ملغی می گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :           (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:           (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Law on Protection of Plants and Quarantine**
- **Law on Nuclear Energy**
- **Decree of Presiclent of Islamic Republic of Afghanistan on Marking of Constitution Approval week**

**Date:21th January.2017**
**ISSUE NO:(1243)**